# پښتونخوا

## دپښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند خپرونه




۲۶ مه ګڼه 2005 کال


Jahrgang/Vol.: 2005/19
Nummer/No.: 26

# PASHTOONKHWA / PASCHTUNCHWA

## Pakhtunkhwa

## ORGAN DER SOZIALDEMOKRATISCHEN PARTEI DER PASCHTUNEN

### Paschtunkhwa/Afghanistan

## ORGAN OF THE PASHTOONS SOCIAL DEMOCRATIC PARTY (PSDP)

### Pashtoonkhwa/Afghanistan




| سرلیکونه | لیکوال | مخ |
|---|---|---|
| پښتو د اوپستا پېژندونکو او ختيز پلټونکو د څېړنې په رڼا کې | پوهاند داکتر کیمور | ۲ |
| د پښتو ژبې د لرغونو متنو یوه نمونه | داکتر گل جانان ظریف | ۱۷ |
| د پښتونخوا د پوهنې دېره | حاجي نصیر ستوری | ۳۵ |
| دورې مه راولئ کلي ته | مبارز څاپي | ۴۲ |
| نوې زړې | عزیز سرشار | ۴۴ |
| افغانستان سینما تیاتر مرکز | | ۵۴ |
| غزل | ممتاز ساپی | ۵۴ |



**خپرونکي:** د پښتنو ټولنیز اولسولیز گوند پښتونخوا/ افغانستان

***Herausgeber*:** Sozialdemokratishe Partei der Paschtunen Pashtunchwa/Afghanistan

***Publisher*:** Pashtoons Social Democratic Party (PSDP) Pashtoonkhwa/Afghanistan



**ذمه وار**

V.S.I.P

Responsible for contents

**ډاکتر کبیر ستوری**

**Dr.Kabir Stori**

[redacted]

50389 Wesseling

Germany

Tell:0049-2236/83463

Fax:0049-2236/841930

E-mail :psdp@pashtoonkhwa.com



**Redaktion:**
**Editorial Board:**
Ali khan Mahsood
Hidayat Bangash
Mabriz Zapi
Aziz Sarshar
Haji Nasir Stori
Gulgutai Kunarai

**د خپروني جرگه:**
علیخان محسود
هدایت بنگش
مبارز څاپي
عزیز سرشار
حاجي نصیر ستوری
گل غوټۍ کونړۍ



E-mail :psdp@pashtoonkhwa.com

# پښتو د اویستا پېژندونکو او ختیز پلټونکو د څېړنو په رڼا کې

**د پوهاند ډاکټر سرزمین کیمور لیکنه**



په اتلسمه او نولسمه مسیحي پېړۍ کې لویدیځې نړۍ د صنعتي انقلاب په نتیجه کې د اومو موادو د لاس ته راوړلو او د تجارتي بازارونو د موندلو لپاره هرې خوا ته لاسونه وغځول او لویدیزوالو د نړۍ له بېلو، بېلو سیمو سره اشنا شول. سره له دې چې لویدیز زواکونو خپله ټوله پاملرنه استعماري ګټو ته وقف





کړې وه، خو په دې مینځ کې ځینې داسې پوهان هم وو چې په اکاډمیک ډول یې د ختیځو ټولنو کلتوري غنا وڅېړله او د دوی د ژبو، ادبیاتو، فولکلور او کلتوري ارزښتونو مختلف اړخونه یې رابرسېره کړل. ددغو پوهانو په لومړي کتار کې (جیمس دارمستتر) مخصوصاً د یادونې وړ دی. کېدای شي چې (دارمستتر) به د فرانسویانو او انګرېزانو ترمنځ د سیالۍ او رقابت له امله د پښتو ژبې او د پښتو د اولسي ادب هغې برخې ته په قصدي او ارادي ډول پاملرنه کړې وي، چې د غزا او جهاد پاڅون په باب ویلی شوي دي. لیکن ددې پیاوړي اوېستا او ختیځ پوه آثار که په مجموعي ډول وکتل شي، له هغه څخه څرګندېږي، چې ده د مرکزي ایشیا په کلتور باندې خپله پاملرنه متمرکز کړې ده. داسې ښکاري چې (جیمس دارمستتر) به دا احساس کړی وي، چې ددې سیمې د ژبو څېړنه او مطالعه د پښتو ژبې لازده کړې نه پرته په مطلوبه توګه پرمخ نه شي بیولی. د پښتو ژبې د مطالعې په ترڅ کې (دارمستتر) د پښتو له ولسي ادب سره هم اشنا شوی دی. نو له دې امله یې





خپل دا کتاب د پښتونخوا د شعر هار و بهار په نامه تصنیف کړی دی.

ما د ډېر وخت راپه دې خوا غوښتل چې ددې نامتو لیکوال او په فرانسه کې د پښتو د ادب لوی استاد پروفیسر فقید جیمز دارمستتر او د ده پر ژوند پېښو( بیوګرافي) څه ولیکم، خو په دې منځ کې لعنتي روسانو پر افغانستان یرغل وکړ او دا د ایشیا زړه یې زخمي او په هندوکش کې یې د وینو سیلابونه او د دوو ملیونو شهیدانو د سرو وینو رودونه او بارانونه وورول او وبیول. په دې وخت کې د پښتو ژبې دا متل مې په یاد شو، چې د زلمو یا خرپ دی یا یې ترپ دی. باید بې یادونې پاتې نشي، چې په افغانستان یا د ایشیا په زړه کې د پېنځه ویشت کالو راهیسې تراوسه پورې د وینو سیلابونه روان دي.

آسیا یك پیکر آب و ګل است
ملت افغان در ان پیکر دل است
از فساد او فساد ایشیا
در کشاد او کشاد ایشیا
تا دل ازاد است ازاد است تن





ورنه ګاه در راه نادرست تن.

جیمز دارمستتر د ۱۸۴۹ کال د مارچ په ۲۸مه نېټه په الزاس (د فرانسې ختیځ او د المان لویدیز پولې ته ورڅېرمه) کې زېږېدلی دی. د پاریس د کندرسه په لېسه کې یې زده کړې کړي دي. د نوموړي لوړ استعداد او بې ساري ذکاوت او ځیرکوالي یې د استادانو پام ورواړاوه او د علمي څېړنې او پلټنې داسې مزې ته یې لاس اوږد کړ، چې دپیاوړو ذهنو تر درلودونکو کسانو پرته یې بل څوك نشي ترسره کولی او دا د اوېستا او ختیځ پېژندنه او ژبپوهنه وه. ویل کېږي چې دا د پښتو ژبې او ادب لوی استاد پروفیسر فقید دارمستتر، پیاوړی جسم او ښکلې څېره یې نه درلوده، بلکې شاکوپی و، خو په ځیرکۍ او ذهني پیاوړتیا کې دده غوندې په فرانسه کې ډېر لږ اوېستا پوه، ختیځ پېژندونکي او ژبپوه درلود.

د تندي لیك یې داسې و، چې د دارمستتر په شان لوی اوېستا پېژندونکی او د ختیځ د ژبو لکه پښتو او فارسي د تاریخ پیاوړی متخصص شي او په ټوله

فرانسه کې مشهور شي یوازې او یوازې دا لیکوال ګڼل کېږي.

په ۱۸۷۷ع کال کې یې په پارېس کې خپله دوکتورا واخیسته او له هماغه وخت څخه د یو ښه پوه او د ختیز ژبو او کلتور د پلټونکي په توګه ومنل شو. د سوربن (هوت ایتود) د لوړو مطالعو په مدرسه کې د اوېستا د ژبې اسستانت شو. په ۱۸۷۷ کال کې یې د او (دمزد او اهریمن د دوی تاریخ او منځ ته راتګ) تر عنوان لاندې د زردشتي مذهب په باره کې یوه رساله خپره کړه.

په ۱۸۸۳ کال کې یې یو کتاب په دوو ټوکونو کې د "آریایي مطالعو" په نامه خپور کړ، چې لومړی ټوک یې د فارسي ژبې پخواني تاریخ، د زړې پارسي، اوېستا او پهلوی مغوني ورپسې، د فارسي غږ پوهنې تاریخ او بیا د فارسي حرف تاریخ، د کلمو جوړښت یعنې د فارسي شتاق او ترکیب پکې راغلی دی.

د لیکوال دوهم ټوک د بېلابېلو مقالو مجموعه ده، چې په پنځو برخو یې وېشلې: یوولس مقالې یې هغه تبصرې دي، چې په هغو اثارو کې د فارسي په ادب





او تاریخ په باب د نورو کسانو له خوا کښل شوی دی. پنځه مقالې یې په اندو اریاني د ژبپوهنې پلټنه، د ځینو فارسي لغاتو تاریخ، اساطیر او افسانې، په فارسي او سنسکرت د کوچني اوېستا ترجمې دي.

په ۱۸۸۵ کال یعنې ۳۶ کلنۍ کې په فرانسه کې د تدریس ډېرې لوړې پوړې ته وخوت او په "کلژدوفرانس کې د موظف استاد په توګه وټاکل شو. په دې سربېره د آسیایي ټولنې غړی او ډېر ژر یې منشي شو. دا بریالیتوب یې په دې ځوانۍ کې په برخه شو او دا ښه پېښه وه، ځکه چې دا وخت د ده د ژوند ډېر کلونه پاتې وو. ده دا بریالیتوبونه ددې سبب شول، چې د فرانسې د آسیایي ټولنې او نورو مقاماتو له خوا د ژبپوهنې د څېړنو لپاره هند ته واستول شي. د فرانسې حکومت د برتانیې له واکمنو مقاماتو نه وغوښتل، چې ده ته ددې کار لپاره اجازه ورکړي. څرنګه چې دده علمي خپرونې د برتانوي هند پېژندونکو ته څرګنده وې، نو انګرېزي حکومت دده له دې مسافرت سره موافقه وکړه. د بېړۍ په وسیله هند ته ولاړ د ۱۸۸۶ کال له فبرورۍ نه د ۱۸۸۷ تر





فروري پورې (د افغان او انګرېز تر دوهمې جګړې شپږ کاله وروسته) په هند او پېښور کې و. لومړی یې په بمبۍ کې له پارسي پوهانو سره د اوېستا او زردشتي مذهب د څېړنو په باب علمي مرکې وکړې، بیا پېښور او هزاره ضلعې ته ولاړ، د ایبټ اباد په چاونۍ کې یې پښتو مطالعې وکړې او پښتو ژبې منشیان یې استادان شول.

ویل کېږي، چې دارمستتر غوښتل چې د خپلو ژورو مطالعاتو لپاره افغانستان ته هم لاړ شي، خو هغه ته وېزه ورنکړی شوه. دا ځکه چې امیر عبدالرحمن خان د ژبپوهنې په څېړنو باور نه درلود. هند او د پښتنو سیمې ته د دارمستتر مسافرت په فرانسوي ژبه څو مهم اثار رامنځ ته کړل. د افغانستان د تاریخ له نظره دده ډېر مهم کتاب د "هند په باب لیکونه" دی. دارمستتر ددې کتاب په سریزه کې کاږي، چې دا نوم یې ددې لپاره دې کتاب ته ورکړی، چې ډېر لوستونکي پیدا کړي. د هند پېژندنې مینه د اروپا د هغه وخت له باسوادانو سره زیاته وه. خو حقیقت دا دی، چې دا کتاب ټول یا په





سلو کې اتیا د افغانستان د تاریخ خصوصاً د افغانستان او انګرېز د دوهم جنګ په باب دی او له هند سره د افغانستان د ځینې خاصو دورو اړیکې او د پېښور او د ورڅېرمه سیمو اجتماعي، کلتوري او سیاسي حالات څېړي او له داسې کتابو څخه دي چې زموږ په هېواد کې باید ژباړه او خپور شي. په کتاب کې د دارمستتر د کتنې، څېړنې او مشاهداتو هغه قدرت، چې د اجتماعي، اقتصادي او سیاسي مسایلو په باب یې کړی او د افغانستان د پېژندګلوۍ په برخه کې دده د زړه له کومي مینه د ډېر قدر وړ ده.

بل کتاب چې ده خپور کړی او نشر ته سپارلی "په هندوستان کې د ژبپوهنې د څېړنو راپور" نومېږي، چې په ۱۸۸۷ کال په پاریس کې چاپ شوی دی او د پېښور او ورڅېرمه پښتنې سیمو د ژوند دودونو په باب ګټور معلومات وړاندې کوي.

د نوموړي ژبپوهان بل کتاب "د پښتو ژبه" نومېږي، چې د غږ پوهنې په رڼا کې (صرف، اشتقاق، ترکیب) کې لیکل شوی او د پښتو ژبې د

منشا په باب نظریات لري او د حسابي او اداري غوښتنو له مخې دارمستتر مجبور شو چې دا ځانګړی کتاب له "پښتونخوا د شعر هار و بهار" یوځای چاپ کړي. حقیقت دا دی چې ژبپوهنې دا کتاب د خلکو د ادب او د ولسي سندرو له څېړنې سره مستقیم اړیکې نه لري. په هغه کتاب کې چې بېل خپرېږي، د ژبپوهنې دا برخه په فارسي ترجمه شوې او وړاندې شوې ده.

د دارمستتر بل کتاب "د پښتنو تاریخ او منشا" نومېږي، چې ده دا اثر د مجبوریت له مخې له پښتونخوا د شعر هار و بهار سره په یوه پښتنۍ کې راوړی دی. په دې علمي اثر کې دارمستتر د یوناني تاریخ لیکونکو اثار یاد کړي او په ساماني، غزنوي او غوري دوره کې یې د پښتنو په باب ګڼ‌ور معلومات وړاندې کوي او وايي، چې د "خلجي" او "غلجي" کلیمې سره په یوه معنی او مترادفې دي. د تعلقیانو، تیموریانو، لودیانو، بابر، سوریانو، غلزیانو، درانیانو او بارکزائیانو د دور په باب د تاریخي مطالبو لنډیز راوړي.





د دارمستتر بله مقاله "د خلکو ادب د پښتنو په نزد" نومېږي. په دې اثر کې وروسته له دې چې د پښتنو هغه لیکني (تحریر) ادب، چې ده لوستی، یعنې د پېژندنې خیرالبیان، د اخوند درویزه اثار، د پښتو کلاسیك شعر او له هغه څخه د خوشال خان دیوان او په پښتو کې له نورو ژبو څخه شوې ترجمې څېړي، د خلکو ادب ته ورننوځي او د خلکو د شاعرانو د ولسي سندرو ریز ډولونو لکه غزل، چاربېته، مصرع د خلکو د ادب د مصنوعاتوپه هکله ، په پېښور کې د هغه وخت د پښتو د منلو شاعرانو د نومونو په باب مطالب وړاندې کړي، چې دا مقاله د همدې اثر د سریزې په توګه وړاندې کېږي. دارمستتر هم دا مقاله د پښتونخوا د شعر هارر و بهار د کتاب په پیل کې راوړې ده، چې ددې کتاب یوه سریزه ګڼل کېږئ او په عین حال کې یوه ځانګړې مقاله ده.

د علامه دارمستتر مهم کتاب "د پښتونخوا د شعر هار و بهار" بلل کېږي، چې د فرانسوي ترجمې سره یوځای "شان، پوپولیر، دي، ز، افغان" په نامه





وړاندې شوی دی، چې پښتو متن، فرانسوي ترجمه او فرانسوي شرح پکې ده. ددې کتاب پښتو متن او د فرانسوي تشریح پښتو ژباړه ستاسو درنو لوستونکیو په لاس کې ده، چې تاریخي سندرې، دیني سندرې، اساطیري سندرې، عشقي سندرې، د دودونو په باب سندرې او په ملتیا یې د ښوا پښتو لنډۍ او اشعار د فارسي یوه عامیانه سندرې، چې د افغان او انګرېز د دوهم جنګ په باب ویل شوې، حامد جان مرد میدان اس بیا بچیم انګور بخور، د رسم، رواج او فولکلور بیان په پیریانو، دیني کلیز، کورني ژوند، د تراویحو لمونځ او نوملیکونه لري.

دا وه د هغو کتابونو پېژندنه، چې د پښتنو سیمې ته د علامه دارمستتر د راتلو په باب او سبب نشر او خپاره شوي او د پښتو ژبې د څېړنې د تاریخ په برخه کې د ډېرو ګټورو کتابونو څخه دي. څرنګه چې کتابونه په فرانسوي ژبه لیکل شوي و، نو تر ډېره وخته د پېښور حتی د افغانستان د پوهانو پام وروانه وښت. په تېره بیا په اماني دوره کې یوه افغاني ځوان زلمي عبدالوهاب محمود طرزي هغه وخت چې پلار





یې په پاریس کې سفیر و، دا مهم کتاب ترلاسه کړ او له هغو لومړنیو افغانانو څخه و، چې دا اثر یې په ډېره مینه ولوست. همدارنګه په اماني دوره کې یو بل حساس افغان استاد عبدالهادي داوي هغه وخت چې په لندن کې افغان سفیر و، پاریس ته د یوه سفر په وخت کې ددې ګټور کتاب پنځه نسخې ترلاسه کړې او د یوې مرکې په ترخ کې یې په دې باب ویل:"زه چې فرانسې ته ولاړم، هلته به بازارونو کې ګرځېدم لومړی یوه کتاب پلورنځي ته وروختم. د کتاب پلورنځي څښتن د شرقي اثارو غرفه راوښوده. ما چې لومړی کتاب راپورته کړ، همدا اثر و دا چې زه څومره ورته خوښ شوم، د هغې خوښۍ اندازه اوس هم نشم بیانولی. ژر مې د کتاب پنځه نسخې رانیولې چې لندن ته تر بېرته راتللو وروسته مې یوه نسخه د لندن د افغاني سفارت په کتابتون کې کېښوده. یوه نسخه مې د اعلحضرت غازي امان الله خان، دریمه نسخه مې د کابل ملي کتابتون ته او څلورمه نسخه مې یې د خارجه چارو د وزارت کتابتون ته راواستولې. پنځمه نسخه یې له ما سره

پاتې شوه چې دا ده اوس هم راسره ده. استاد داوي دا نسخه په هغه صندوقچه کې چې ترڅنګ يې ايښې وه، له ځان سره په ډېره کلکه مينه ساتلې وه.

اوس د دارمستتر هغه کتابونو ته رارسېږو چې د ژوند په څو هغه وروستيو کلونو کې يې چې مرګ مهلت ورکړ، چاپ کړل. دارمستتر په ۱۸۹۲ کال کې په فرانسوي ژبه د اوېستا د کتاب بشپړه ترجمه له لاړمو پاڼليکونو او نښلونو سره خپره کړه. که څه هم له هغه وخته بيا تراوسه په الماني، فرانسوي او نورو ژبو د اوېستا څو ترجمې خپرې شوي، خو تراوسه د زردتشتي مذهب د تاريخ او ژبپوهنې په برخه کې د دارمستتر نظر او وينا چې په هغه ترجمه او شرح کې يې راغلې د پوهانو د څېړنو يو لوی اخځ او منبع ګڼل کېږي. دارمستتر د ټولو دينونو له تاريخ، سياسي او اجتماعي مساېلو سره زياته مينه درلوده. دده مقالې د هغه وخت په دوو مهمو مجلو "رويوکرتيك" او "روپودوياريس" کې ډېرې په زړه پورې دي. دده ځنې اټکل او پېشبينۍ د وروستيو کلونو پېښو رښتيا کړي دي.





د علامه دارمستتر يو شمېر مقالې او رسالې د اسماني دينونو په باب نشر شوي دي. د مثال په توګه د يهودو د خلکو تاريخ په "توول رويو" او د بني اسرائيلو پېغامبران يې په ۱۸۹۲ کال کې چاپ کړل. د مسلمانانو له نظره يې د مهدي د راوتلو د عقيدې په باب يو کتاب ليکلی، چې په ۱۳۱۶ لمريز کال کې محسن جهانسوز له فارسي ترجمې سره په تهران کې چاپ کړ.

ددې ستر پوه څېړونکي ګټور ژوند چې زياته برخه يې افغانانو ته وقف کړې وو، د ۱۸۹۴ د اکتوبر په ۱۹مه نېټه پای ته ورسېد او له نړۍ څخه يې سترګې پټې کړې. تر ده وروسته يوه پوه هم دده په اندازه د ژبپوهنې او ختيز پېژندنې په باب مواد راغونډ نه کړل. يعنې تر ده وروسته ژبپوهنه او ختيز پېژندنه سره بېل شول، يوازينی سړی چې تر ده وروسته يې ژوند کاوه او دده په نزد حتی تر ده زيات يې په عربي او نورو اسلامي ژبو کې لاس درلود، لوی مانيا و، چې ده هم له افغانستان سره مينه درلوده او افغانستان ته راغلی و.





علامه دارمستتر د نولسمې پېړۍ په دوهمه نيمايي کې په اروپا کې د ژبپوهنې او ختيز پېژندنې يوه روښانه څېره وه، هغه وخت ډېرو لږو کسانو لکه ده غوندې په يو وخت په څو برخو کې لکه: ختيز پېژندنه، ژبپوهنه، د تاريخ او دينونو مطالعه او څېړنه، د نړېوال سياست پلټنه او څېړنه، د کلتوري مساېلو څېړنه او پلټنه، پياوړی لاس درلود. هغه علامه او ستر پوهان چې په لويديز کې يې ډېر مهم کتابونه د پښتو ژبې او د پښتو ژبپوهنې، ګرډود او تاريخ او د پښتو د ولسي سندرو په باب په نولسمه پېړۍ کې ليکلي دي، د يوه ستر نبوغ ښندونکي مغز څښتن و.

*جنرال عبدالصمد مومند*

هجر او وصل چې همدم ژاړي
لاړه هم ژاړي هم قدم ژاړي
له بتخانې نه راوتلي خلك
دلته په خوا کې د حرم ژاړي
زما له وينو زرغون شوی ماښام
د يوه سپين سبا په غم ژاړي
صمده مه تره زړګی ورپورې
دا ښکلي چېرته د چا غم ژاړي.





پروفېسر ډاکټر ګل جنان ظريف

# د پښتو ژبې د لرغونو متنو يوه نمونه

(۲۵۰۰ کاله دمخه)

دمخه تر دې، چې د متن پر محتوياتو رڼا واچول شي د متن د اهميت په اړه يو څه ويل پکار دي.



## د متن اهميت:

پروني يا پخواني اثار د يوه هېواد يا اولس د خيالونو، فکرونو، دود او دستور، ټولنيز ژوند د څرنګوالي، سياسي اوحقوقي دريځ، هنري او ادبي موقف، کلتوري مقام، تاريخي هويت، اقتصادي ودې، بشري اړيکو، هيلو او

غوښتنو د پېژندنې هینداره او د یوه اولس د ملي او بین المللي پرستیژ او په خاصه توګه د رواني او روحي حالت د ټینګښت، په خپل ځان او اولس د اعتماد د زیاتېدو، په خپل مټ د تکیه کولو، د جرأت او همت د پراختیا او په نتیجه کې د ځاني او ملي پرمختګ او په نړۍ کې د برابرۍ، عدالت، سولې او روغې او سوله ییز ګډ ژوند د تقویې دپاره خورا مهم رول لري او لوبولی یې شي.

لرغوني اثار د هر هېواد او ملت خورا ارزښتناکه شتمني جوړوي او هر پوه، با درکه، زیرك، هوښیار، زړسوانده او هېوادپال شخصیت یې د زړه له کومي پالنه او ساتنه کوي او پورې کسي. بیا د داسې ځای او هېواد، چې د یرغلګرو، تیري کوونکو، زور کړو او مستبدینو د لاسه یې سخت ځاني او مالي زیانونه لیدلي او ملي ارزښتناك اثار یې ړنګ، محوه شوي او ورانېږي د پرونیو او لرغونو ژبنیو لیکل شویو اثارو شتوالی او پیدا کېدل د زیاتې توجه او خورا ډېر اهمیت وړ دي، او هم د اولس د هر وګړي دنده ده، چې ځان ورسره اشنا او ورپورې وکسي، تر څو د یرغلګرو، لوټمارو او غمازو د لاسه ورك او نابود نه شي او هم د دوی د ظالمانه، ناوړو او توهینونکو دسیسو او پروپاګندو مخنیوی شوی وي.





برسېره پر دې د داسې لرغوني متن شتوالی د افغان ځایپال (هېوادپال) او ننګيالي. اولس د ژبې او کلتور غوره نښه او ددې اولس د هڅو، همت، زیار او تاریخي هویت یو ډېر غښتلی ثبوت او د ټولو افغانانو او هم د سیمې د کلتور، هېواد پالنې، افتخار او پر خپل ځان او اولس د باور د ټینګښت او تقویې مایه ده.

## د متن لنډه پېژندګلوي:

دغه متن، چې دلته وړاندې کېږي د هغه ډیب یا ډیبي (ډبرلیك) یوه برخ ده، چې تقریباً ۲۵۰۰ کاله دمخه پر یوه پرشه د لومړي داریاووس په وخت کې په کې ډیب (کښل یا لیکل) شوي دي او د هغې زمانې د ځینو پېښو جاج پکې پېښ شوی دی.

بشپړ متن اوږد او د پښتو ژبې د پخوانیو او لرغونو ترمونو او واژو د یوه ځانګړي پوټك (پوستك، کتاب) چې دمخه چاپ شوی تر څنګ یې د یو لړ نورو متنو سره خپرول په نظر کې دي. د متن اصل او نقل موجود دی، ولې د ځای د سپمولو په خاطر یې دلته د وړاندې کولو او پرې زیات بحث څخه ډډه کېږي؛ خو دومره باید یاده شي، چې اصل متن په مېخمري یا مېخي لیك دود او د آسانتیا دپاره د





پښتو ژبې په اوسني رسم الخط کټ مټ اړول شوی او تشریحي برخې په قوس کې نیول شوې دي.

دې ټکي ته پام په کار دی، چې ځینې توري دوه یا څو ژغونه لري او همېشه په یوه ډول نه تلفظ کېږي لکه [illegible] چې د ډ، ذ، ز، ځ په څېر او [illegible] د ګ او غ په شان، [illegible] د ج، ژ، ږ او ږ په څېر [illegible] د څ، چ، ځ په ډول او [illegible] د و، هـ، ښ او خ په قسم او [illegible]

کله کله د غوني په طور او ځینې توري کله کله بې ژغه پاتې کېږي لکه [illegible] او همدغه رنګه د [illegible] توری د ډېرو واژو په سر کې اضافه یا زیات برېښي او کله کله د نفې یا نهې په منظور استعمالېږي. د یوه توري د پرله پسې یا دوه ګون راتګ په صورت کې اکثر یو ګون یا یو وار لیکل شوي.

بله دا چې د متن ځینې برخې د وخت په تېرېدو سره کمې زیاتې کتل شوې یا ړنګې شوې او ښې روښانه نه دي، چې مربوط ځایونه په متن کې په ښه شوي دي. په متن کې واژې او مفاهیم د یوه کاږه مېخ ( [illegible] ) یا ددې ( 〈 ) علامې په واسطه بېل شوي، ولې د اصلي او فرعي جملو د بېلولو ځانګړې نښې لکه نقطه یا کامه نه لري.

سره ددې، چې متن تقریباً ۲۵۰۰ کاله لرغونتوب لري او ډیب یا ډیبي عموماً ډېر خلص وي، بیا هم ښه





روان او په لاژم پام او دقت سره په ښه توګه لوستل کېږي او د پوهې وړ دي. د متن د رواني او روښانتیا دپاره د واژو او مفاهیمو تر منځ د بېلونکو علامو د لیکلو څخه ډډه شوې ولې د یو څه فاصلې او واټن په ذریعه یو د بل څخه بېل شوي دي.

## متن:

متن په دوه ډوله وړاندې کېږي:

۱- متن په اوسني لیك دود.

۲- متن د یوڅه تشریح او توضیح سره.

چې ورپسې به د متن پر محتویاتو یوه لنډه تبصره وشي.

## ۱- متن په اوسني لیک دود:

داتـي (دادی) داریاووس خشایتیۍ: تووم که خشایتیۍ هی (هغې) اپارم (راپورې، راپسې) اهی (بی یا وی) هڅه (څخه) دروغه ډرشم پتې پابووه (ډېر ځان ساته یا ډېر پام کوه).

مرتي هي دروجن (دروژن یا دروغجن) اهتیۍ اوم وفراستام پړسه (هغه په رښتیا پړسوه یا پړځوه)، یدی (یادی) (که دی) اوسه منیۍ یای ځایاوش می دروه (درومه) اهتی.

داتـئ داریاووس خشایتئ: یمه تی (چې) ازه م اکونومه وسنه اور مزداهه همیایا ترزه (طرزه) اکونومه. تووم که هی هغی اپارم یمه م ډیپیم (ډیبي، ډیبه، ډیب) پتی پر ساهی (پړاو کوي) تی (چې) مانه کړتمه (کړېدمه) وړ نوتمه تووم مه تی (مه چې) دروژییاهی.

داتی داریاووس خشایتئ: اور مزدا تی ییا یسه یمه هشیم (ښه شیم) نه بی دوروخ تمه (دوروغ ده)، ازه م اکونومه همیایا ترزه (طرزه).

داتی داریاووس خشایتئ: وسنه اور مزداهه می انئ شځی (نور څه شی) وسی استی، کړتمه (کړېدمه) اوه (هغه) اهیایا ډیپی یا نه بی نئ پیژتمه اوهیه رادی نه بی نئ پیشتمه، مه تی (مه چې) هی (هغی) اپارم یمه م ډیپی م پتی پرساتی (پسی پړاو کوی) اوهیه پروو څه دیاتی (څه دی چې) مانه کړتمه نه بی شیم (نه بې شي) وړنواتی، دوروختام (دوروغتیا) منی یاتی.

داتی داریاووس خشایتئ: تی بنی (چی بی) پرووا (پخوا) خشایتیا یسه اهه، اوی شمه نه بی استی کړتمه یسه مانه وسنه اور مزداها همیایا ترزه څوړ تمه (جوړ تمه).

داتی (دادی) داریاووس خشایتئ: نوره م تووام وړ نوتمه (وړه بی کړه یا قبلوه) تی (چې یا څه چې) مانه





کړتمه اوسه... اوهیه رادی مه اپه ګوډیا......، یدی (یادی) (که دی) یمه م هزوکه م (غړوګه) نه بی اپه ګوډ یاهی کارهیه (کرهیه) تاهی (ښایي څرګندوي، اعلانوی، وائی) اور مزدا توومه دوشته بیا، او ته تی تومنه وسی بیا وته (او) ډرګه ژیوه (جیوه) (او ډېرېږه د ژوند).

داتی (دادی) داریاووس خشایتئ: یدی (یادي) (که دي) یمه م هړوګه م (غړوګه) ا په ګوډ یاهی ..... نه یی تاهی (ښایي یا وایي) کارهیه (کرهیه، لښکر یا اولس ته) اور مزدا اتی (اور مزداد د) جته بیا وته تی (او د تومه (تومنه) مه بیا (او د تا تومنه د مه (وي) بیا).

داتی داریاووس خشایتي: یمه تی (چې) ازه م اکونومه همیایا ترز (طرز) وسنه اورمزداها اکونومه. اور مزدا می (اور مزدا می) وپسته م (مرسته) ابارا (وکړه) وته (او) انیا (او نیرا یا نور)... تی یی (چې یی) هتی (دی).

داتی داریاووس خشایتئ: اوهیه رادی اور مزدا وپسته م ابارا اوته (او) اتییا... تی یی (چې یې) هتئ: یسه نه بی اریك اهم (در) نه بی دروجن اهم (دم) نه یی زور کړ (زورکار،) اهم (وم یا یم)، نه یی ازه م نه می تومه (تومنه) (،) وپاری (ورپوري) ارشتام وپاری ایام (په ایا پوري یا د انصاف مل) نه یی ښکوری م نه یی





(مه یا نه) تا نووته م زور اکونومه.

مړتیا هی (هغې) همت کشته مانه ویتیه اوه م و برته م ابارمه هی (هغې) وینه تایه (وینه شیه) اوه م و فرشتام (په رښتیا یا سخت) اپرسمه.

داتی (دادی) داریاووس خشایتئ: تووم که خشایتئ هی (هغې) اپارم (راپورې یا راپسې) اهی (یی یا، ي) مړتئ هی هغې دروجن (دروغجن) اهتی هروه زور کړ اهتی او یی (هغوی) مه دوشته بیا اوفراشتادبئ اپرسه (پړسوه یا پرځوه).

دادی داریاووس خشایتئ: توومه که هی (هغې) یمه م ډیپی م وینهی (ویني) تی (چې) ازه م نئ بیشمه یمه یوه پتی کړه (پاتیکړه....) مه چی وی کنی یاوه جیوه (ژیوه) بی وه اوسه وپاری کسی یی (ورپورې کسه یی).

داتی (دادی) داریاووس خشایتئ: یدی (که دی) یمه م ډیپی م یمه یوه پاتیکړه وینهی (ویني) نه یی دشه وی کنی او ته تی یاوه تومنه اهتی پری کسه دیش اور مزدا توومه دوشته بیا وته تی (او د) تومنه وسی بیا وته (او) ډرګمه (ډېرېږه د) جیوه (ژوه یا ژوند) او ته تی (څه چې) کونه وی اوهتی (هغه د) اور مزدا وزرك (و سرك وسی یا لوی) جدنوتوو (ژدنوتووه) (ودانوه، جوړه وه یا تر سره کوه).





داتی داریاووس خشایتئ (کشترئ یا تورکش یا پادشاه): یَدی (که دی) یمه ډیپی م یمه یوه پاتیکړه وینهی (وینی) وی کنه دیش او ته تی یاوه تومنه اهتی نه یی دشه پری کسهی (پورې کسي) اور مزداتی (اور مزد د) جته بیا اوته تی تومه (تومنه) مه بیا اوته تی (چې) کونه وی اوهتی (هغه د) اور مزدا نیختووه (هغه د اور مدا نشتوه).

## ۲- متن د یو څه تشریح او توضیح سره:

دادی داریاووس خشایتئ (کښتری، تور کښ یا پادشاه): ته که خشایتئ: هې (هغې) اپارم (راپورې یا راپسې) وې (یا ته که هغه راپورې یا زما وروسته پادشاه شوې) هڅه (څخه) د دروغو ډېر شمه پتی پایووه (ډېر ځان ژغوره یا ساته). مړدئ هغې (کوم چې) دروجن (یا دروغجن) وه دی یاوی، هغه په رښتیا (یا سخت) پړسوه یا پرزه وه. یادی اوسه مانیاه (که دې داسې فکر کاوه یا تر څو که دغه منې). ځایونه (هېوادونه) به مې دروسه (دروست اهتی (یا هېوادونه به مې دروست وي). (او که دروسه دورووه ولوستل شي نو مانا یې درېدلې یا پر ځای راځي، چې بیا هم مطلب سم افاده کوي. یعنې هېوادونه به مې درېدلي، پر ځای یا پر امن اوسي).

دادی داریاووس خشایتئ: یمه تی (دغه (دی) چې)

ازه م کونه ومه (زه یا ما کړیدی)، په وسنه د اور مزدا می په همیایا ترز کړی (یا په وس، قدرت او غوښتنه د اهورا مزدا، د غوره، ښه او مهربان خدای مې په ویل شوي طرز کړیدی. ته یی راپورې (راپسې یا وروسته) یمه (دغه) ډیبی (ډیب یا ډبرلیك) پتی پړسی (پسې لولي) چې ما کړیدی، وړنوتمه (وړ یې کړه، غوره یې کړه، قبول یې کړه یا باور پرې وکړه) مه چې دروغ یې یا یې (مه یا نه چې دروغ یې ویلي دي یا مه چې دروغ یې وبولي).

دادی داریاووس خشایتیٔ: اور مزدا تی یی یا (اور مزدا تاته وایه یا درته وایه) یسه یم هشیمه (چې دغه ښه شوی یا دغه ښه شي او رښتیا دی)، نه یی دروغ ته (نه یې دروغتیا یا نه یې دروغ دی) (څه چې) ما کړیدی په هم یې یا ترزه (په همدغه ویل شوي طرز په هم واړه طرز).

دادی داریاووس خشایتیٔ: په وسنه د اورمزدا می نور څه شیان وسی (زیات) دی (چې) می کړیدی، اوه (هغه) په اهیایا (پدې یا ذکر شوي) ډیب یا ډیپی کښی نه بی نیپیشتمه (نه یې پښومه یا نه یې لیکمه) اوهیارادی نه یې نیپیشتمه (او د هغه راهیسې یا له دې کبله) نه یی نیپیشتمه (نه یې پیشومه یا نه یې لیکم) مه چې هغې راپوری،





(راپسې) دغه ډیب (ډیبیٔ) پسی پړاو کوی او هغه پروو (پرون، پرخو، پخو، پخوا) څه چې ما کړیدی نه یې شی. وړنوتی (قبلولی)، دروغتیا یې منې (دروغ یې مانا کوې، دروغ یې تصور کوې یا دروغ یې ګڼې).

دادی داریاووس خشایتیٔ: چی یی پروو (پخو یا دمخه) خشایتیان یسه وه (دوی یا کوم چې پروو پادشاهان وو) هغوی ونشو کړای یسه ما په وسنه د اورمزدا په همیایا ترزه جوړ تمه (جوړ کمه) یا لکه څه چې ما په وسنه د اورمزدا په ویل شوی طرز جوړ کړي یا کړي دي).

دادی داریاووس خشایتیٔ: نوره ته وړ نوتمه (وړ ګڼه یا قبلوه) چې (څه چی) ما کړی اوسه او... مه په ګوډیا (مه په غوندیا غوندې یا غندیا یا مه په ګوډی کوه یا پټوه)، یا دی (که دی) یمه هړوګه (غړوګه، یادونه، خبر، پیغام، وینا) نه یی په ګوډ یا، کلرهیه (کرهیه یا لښکر او اولس ته یې) تهبی یا تاهی (ښایي) اورمزدا د توومه دوشته (اور مزدا د تو وی دوست) بیا او د تو (تا) تومنه وسی (ډیره) بیا او ډرګه د ژیوه (جیوه) بیا او ډېرېږه د ژوند بیا).

دادی داریاووس خشایتیٔ: یادی ( که دی یا کله چې) یمه (دغه) هزوګه (غړوګه، پیغام، وینا) په ګوډی (پټوی) نه یی تاهی کارهیه (نه یې ښایي اولس یا





لښکر ته)، اورمزد د جته (ژته، ژوبل کړه، وهه) بیا او ته تی تومه (تومنه) مه بیا (او د (تا) تومنه د مه وی بیا (یعنې تومنه د ورکه شه بیا).

دادی داریاووس خشایتیٔ: یمه تی (دغه (دی) چې) زه کونه ومه (ما کړیدی) په همیایا ترز (په ویل شوي طرز) په وسنه د اورمزد می کړیدی. اور مزدا می مرسته رابارا (وکړه) او نور... چی بی دی.

دادی داریاووس خشایتیٔ: اوهیه رادی (او د هغه راهیسې یا له دې کبله یا ځکه چې) اورمزدا مرسته رابار کړه (راسره وکړه) او نور.... چی یی دی، یسه (ځکه چې) نه یی اړیك (بې نماځه، ناولی، یاغي) اهم (یم، وم)، نه یی دروغجن یم، (وم) نه یی زور کړ (زور کار، ظالم) یم (وم)، نه یی زه، نه می تومنه، اپاره ارشتا (پورې په رښتیا یا په رښتیا پورې یا د رښتیا، واقعیت او عدالت مل) پوری په آیا (د انصاف مل یا د انصاف رعایت کونکی)، نه می شکوری (ښه خوری، شتمن یا ښه کړونکی، پوه) او نه می د مه یا نه تنووته (خوار او بې وسه سره) زور (زیاتی یا ظلم کونه ومه (کړیدی). مړدیٔ، هغی (یا کوم چې) همت کشته (همت کړی، زحمت کښلی یا زیار یې ایستلی) زما د ویتیه (کورنی یا ټبر سره) هغه ته می ښه بار وربار کړ (د هغه سره مې ښېګړه وکړه)، هغې (یا کوم





چې) وینه تیه (وینه شیه یا وینه ځیه؟ یا یې وینه تویه کړې یا دښمني یې راسره کړې) هغه مې په رښتیا یا سخت وپړسوه (یا وپرزه یا وپرځوه یا سخته سزا مې ورکړه).

دادی داریاووس خشایتیٔ: ته وم (ته) که خشایتیٔ، هغی اپاری (راپورې) هی (یا ته که هغه راپسې پادشاه یې یا ته که وروسته پادشاه یې)، مړدیٔ، هغی (کوم چې) دروغجن اهتی (دی یاوي)، هغه (چې) زور کړ دی، او یی (هغوی) مه دوشته (هغوی مه دوست کوه یا مه دوستوه یا د هغوی سره دوستي مه کوه) بیا او په رشتاد یی (او په رښتیا یې) پرزه وه یا پړسوه (یا سخته سزا ورکوه).

دادی داریاووس خشایتیٔ: ته که هغی راپورې (راپسې یې) یمه (دغه) ډیب یا ډیبیٔ وینی چې زه یی پیشومه (یا چې ما لیکلی) یمه یوه (دغه یوه) یاتیکړه (څېره، نقش) مه چی وی کنی یی وه جیوه (ژوه یا ژوند) یی اوسه (تر څو چې ژوند وي یا ژوندی یې) ورپاری کسی یی (ورپورې کسې).

دادی داریاووس خشایتیٔ: یادی (که دې یا کله چې) یمه ډیبیٔ (ډیب) (او) یمه یوه پاتیکړه (پاتیکړه، څېره یا نقش) وینی، نه یی د شی وی کنی (نه یې خرابوي) او چی تر څو د تومنه دی پری یا پوری

کسی، اورمزدا د تو یا د تا دوست وی (اورمزدا د دوست لره) بیا او د تومنه وسی (شتمنه، زیاته) بیا او ډرګمه د ژیوه یا جیوه (یا ډېرېږه د ژوند) او څه چی کونه وی (کوې) او اتی (هغه د) اورمزدا وزرك (وسرك، وسی، بزرګ یا لوی) جدنووتووه (ژدنوه، زرغونوږه، ودانوه یا تر سره کوه).

دادی داریاووس خشایتیٔ: یادی (که یا کله چې) دغه ډیبیٔ او یمه یوه یا دغه یوه پاتیکړه وینی، وی کنه دی او چی تر څو د تومنه دی نه یی دشه پوری کسی اورمزدا د (تا) جته بیا (اورمزدا د جت پتکړه، ووهه یا ژوبل کړه بیا) او د تومنه مه بیا (او توونه، تومنه د مه یانه وي بیا) او څه چی کونه وی یا کوی، هغه د اورمزدا نیختوه (یا هغه د اورمزدا نشتوه).

## د متن پر محتویاتو لنډه تبصره:

متن بې له شك او شبهې پروني یا لرغوني پښتو ده، چې تر اوسه یې ترمونه او مفاهیم موجود او استعمالېږي. متن د پښتو داسې خالص ترمونه او واژې لري، چې هېڅکله مغالطه کېدی نه شي؛ لکه وسنه، وزرك یا وسرك، وسی، وس هی (هغې)، ډر (ډېر)، دروژن یا دروجن یا دروغجن، تی (چې)، مه، ازه م (زه)، ډیپ یا ډیپیٔ (یا ډیب، ډیبه، ډیبیٔ)، مه





چې، وړنوته، نوره، هزوکه (غړوګه)، همیایا، یوه، تومه یا تومنه، اړیك، زور کړ (زورکار)، یسه، اوسه، اپاری یا راپورې وینی، وینه، وینه تایه (وینه تویه) یا وینه شیه، جته، پاتیکړه، ژیوه یا ژوند، وی کنی، اوه تی (هغه دی)، نیختوه یا نښتوه، اتاه (تاهه، تاهی)، پری کسه او نور.

دا یو داسې واقعیت دی، چې د هر رښتیني (رښتوني)، د موضوع سره د اشنا او معقول محقق او ژبوه له خوا د منلو او پوره تایید وړ دی.

همدغه رنګه د متن ګرامري جوړښت او د افادې ترز (طرز) بې له شکه سوچه پښتو او موزون دی.

که متن ته د مفهوم له مخې وکتل شي؛ نو هم غتې ښېګړې او خوبي لري.

یوم دا چې په متن کې د اورمزدا یا آهورا مځدا زیاته یادونه شوې باید یاده شي، چې اور او آهورا د ځلانده او غوره په مانا، مزد غښتلی، کلك او وسي په مانا دي. په مځدا کې مـ دمه او نه، ځـ د ځمه، تلونکي او دا د موجود په مانا کېږي، او که منځدا ولوستل شي، منځ د منځ، منځیز، مرکزي او دا د موجود مفهوم لري؛ نو د اورمزدا یا آهورا مځدا یا آهورا منځدا مانا او مطلب ځلانده، غښتلی، وسي یا غوره نه له منځه تلونکی موجود او یا غوره منځیز او





مرکزي موجود کېږي، چې یوازې تولپوه، تولوسي او لوی خدای او څښتن نه له منځه تلونکی، منځیز، مرکزي، غښتلی او وسي موجود دی.

بله دا چې له دروغو کرکه ښودل شوې او په دروغجن باندې د باور او اعتماد او ورسره د دوستۍ د نه کولو توصیه شوې په رښتیا پر ځای خبره او ښه نصیحت دی؛ ځکه، چې څوك په دروغجن باور کوي د هغه کار ویجاړېږي او په خپله یې اعتماد او وقار کمېږي، تجریدېږي او په ضعف او خوارۍ اخته کېږي؛ نو ددې دپاره، چې د کار د ویجاړتیا، ځاني او ټولنیزې کمزورۍ او ضعف مخنیوی شوی وي او د کینې او دویښنې جلو ګیري شوې وي، دروغجن او چغلګر رټل کېږي او ورته د سختې پرزه او سزا تجویز ضرور ګڼل کېږي تر څو د داسې ناوړه او مضر عادت ممانعت شوی وي.

ـ د زور کړنې، استبداد، ظلم او زیاتي او دروغ ویلو څخه د ځان ژغورنې توصیه کېږي.

ـ په سپېڅلتیا، ره یا رتا زور اچول کېږي. د رښتیا، واقعیت، حقیقت، عدالت او د آیا او انصاف پلوي لازم او په ناحقه د هر کس که د بدای او شتمن وي او که د خوار او بې وسه وي څورول او پرې تېری ناجایز او پېد دی.





ـ د همتناك، زحمت کش، رښتیني او دوست ملاتړ او مرسته او د زورکړ، وینه توی، وینه تویونکي او غارتګر د سختې سزا تجویز ضروري بلل شوی دی.

ـ د افراط (او تفریط) څخه ډډه کول په ګوته شوي.

ـ د هېواد په تاریخي او کلتوري اثارو او یادونو پورې کتل ستایل شوي او د داسې اثارو د پالونکو ستاینه او د ډېر والي او وس ارزو او څوك، چې پورې نه کسي او کنی یې د هغوی د خواري اونښتوالي هیله شوې.

په رښتیا چې هر یو ددې ټکو خوار مهم او تر اوسه پوره اعتبار لري او ورسره سم تګ او چلن ښایي.

د رښتیا، حق، حقیقت، عدالت، انصاف او سپېڅلوتوب پلوي، د تاریخي او کلتوري اثارو او یادونو حفاظت او د ملي ګټو او د بشر د حقوقو خوندي ساتل لازم او باید تقدیر شي، په داسې حال کې، چې دروغ، زور کړنه، ظلم او استبداد، په ناحقه وینه تویونه، مرګ او ژوبله، د بل چا پر حقوقو، ځان او مال بلوسه او تېری، افراط او د ملي کلتور، شتمنۍ او یادونو ته ضرر او زیان رسول باید تقبیح او ورټل شي. دروغجن، زورکړ، ظالم او مستبد او وینه تویونکی په هره جامه او رنګ، چې وي

منخـوس، خچـن، ککـړ او د سـزا وړ دی او ربښتینـي ځایپـال (هېوادپـال)، لـورین، رشـن (عـادل) هـومن (ښـومن) هـووین (ښـو ویـن، ویـان)، هوکـړن (ښوکـړن) د درناوي، تقدیر او افتخار وړ دي.

دلتـه بایـد یـاده شـي، چـې د اوسنیو څېړنـو او هغـو لرغونـو او پخوانیـو متنونـو، چـې پـه لاس راغلـي او خپرونـه یـې پـه نظر کـې ده یقینـي برېښي، چـې د پښتـو ژبـې ډېـر نـور پخواني اثار شـته، چـې تـر اوسـه نـه دي رالـوخ، تثبیـت او تاکـل شـوي. امیـد دی، چـې دغـه لیکنـه د ښـاغلو او محترمـو محققینـو د توجـه وړ وګرځـي او دې موضـوع تـه د دوی پـام راواړوي او پـه راتلـونکي کـې یـې زیـات بریالیتوبونـه پـه برخـه او د خپـل اولـس، سـیمې او بشـر دپـاره د خـدمت مصـدر شي.







حاجی عبدالنصیر ستوری

# د پښتونخوا د پوهنې دېره

*د وختونو لــه برلونه داسې ښکاري*

*د پښتو د باغ ګلونه به سمسور شي.*

لکـه څنګـه چـې پـه نـړۍ کـې قامونـه او اولسـونه د خـپلې ژبـې، دود او دسـتور لـه مخـې پېژنـدلی شـي، همداراز د نړۍ پـه وېش کـې د خپـل پېژنـد پـه اساس پـه بېلابېلـو سیاسـي پولـو کـې سـره تـړل شـوي دي، خـو ځیـنې داسـې قامونـه هـم شـته، چـې پـه دوه یـا زیـاتو سیاسـي پولـو (هېوادونـو) کـې ژونـد تېـروي. د بېلګـې پـه توګـه د عـرب قـام یـا ملت، چـې پـه څو هېوادونـو کـې مېشته دي.

همـدا شـان پښتـون قـام یـا ملت، چـې شـمېر یـې (۵۰) پنځـوس میلیونـه اټکـل شـوی دی، د ۱۸۹۳ کـال راهیسـې د وخـت د انګریـزي حکومـت لـه خـوا پـه دوو





هېوادونـو افغانسـتان او پاکسـتان کـې پـه څو برخـو ووېشل شو.

پښتـون ملـت پیـاوړی او مـوړ کلتـور لـري، خـو د وخت د حکومتونـو او واکدارانو لـه خوا لکـه څنګـه چې لازم دي، د پښتـو ژبـې دپـاره چـې هـم ژبـه او هـم د ژونـد



دود قـنون دی، کـوم د یـادونې وړ کـار او پاملرنـه نـه ده شوې او کـه څه شوي، هغـه هـم لکـه پـه اوړو کـې مالګـه. پـه اولسـي سـطحه ځیـنې بااحساسـه او هېوادپـالو پښتنـو پـه ځـانګړې توګـه او ځینې نـورو یـې د ادبـي او کلتـوري ټولنـو او ادبـي جرګـو پـه شـکل کـې د خـپلې ژبـې او کلتـور د پرمختیـا لپـاره اوچـت ګامونـه اخیسـتل او دوام لـري، چـې لـه دې جملـې څخـه د





پښتـو ژبـې نومیـالی لیکـوال، ادیـب، شـاعر او افسـانه لیکـونکي ښـاغلي لایـق زاده لایـق او عبدالبصـیر بیـدار د یـادونې وړ دي، چـې د ځینـو نـورو لیکوالانـو، شـاعرانو او ادیبـانو او پوهـانو پـه سـلا او مشـوره یـې د ۱۹۹۸ کـال د اګسـت پـه میاشـت کـې د پښتـو ژبـې، ادب، کلتـور او هنـر د ودې او پرمختیـا پـه خـاطر پـه پېښـور کـې د "پښتونخـوا د پـوهنې دېـره" جـوړه کـړه، چـې نـامتو لیکـوالان، شـاعران او پوهـان پکـې راټـول شـوي دي او د هـر ډول سیاسـي نظـر نـه پرتـه د پښتـو ژبـې او ادب د پرمختیـا لپـاره کـار کـوي. د لیکوالانـو، پوهـانو او شـاعرانو د نظریـو یـووالي تـه وده ورکـوي، اړیکـې ورسـره ټینګـوي او د اثـارو د چـاپ زمینـې یـې برابـروي، کلتـوري غونـډې او مشـاعرې جـوړوي او د پښتو موسیقۍ پروګرامونه ترتیبوي.

د پښتونخـوا د پـوهنې دېـرې مشـري د لایـق زاده لایـق پـه غـاړه ده او عبدالبصـیر بیـدار یـې مرسـتیال دی. پـه افتخـاري غړیـو کـې یـې ډاکټـر کبیـر سـتوری، پروفیسـر اباسـین یوسـفزی، ډاکټـر شـاه جهـان سـید او جمشـید ندیم نیازی شامل دي.

د پـوهنې دېـرې تراوسـه (۳۸) ادبـي او پـوهنیز کتابونـه چاپـپ کـړي او د پښتـو موسـیقۍ (۲۵)

پروګرامونه يې جوړ کړيي دي، چې دا نه ستړې کېدونکې هلې ځلې يې د ډېر درناوي وړ دي، چې د راتلونکې نسل يا کول دپاره د ارزښتناك تاريخ په حيث ګڼور ثابتېدای شي، د پښتونخوا د پوهنې دېرې خپلې هلې ځلې په يو لنډ يادښت کې په لاندې ډول ليکي:

"د نړۍ په غېږ کې چې څومره انسانان ژوند کوي، نو په دې کې د هر قام ژبه، دود، دستور، رسم او رواج او کلتور جدا جدا دي، خو په دې ټولو کې ژبه هغه نعمت دی، چې نه يوازې د خبرو کولو وسيله ده، بلکې د قامونو په جوړښت کې خورا زيات ارزښت لري. همدارنګه د هر قام وګړی په خپله ژبه ژوندی پاتې کېږي، ترڅو چې د يوه قام ژبه وده او پرمختګ ونکړي، تر هغې هغه قام د پرمختګ او ترقۍ په لور ګامونه، نه شي اخيستی. نن سبا په ډېرو پښتنو کې د ژبې د خدمت جذبه زياتېږي او د روانو حالاتو په تر[illegible]ې داسې څرګندېږي، چې "پښتو ژبه": د خپلو بچو [illegible]ره پاملرنه او توجه هم غواړي.

د پښتونخوا د پوهنې دېره په دې فخر او وياړ کوي، چې د خپلو کوښښونو په ترڅ کې يې يو شمېر کتابونه چاپ او لوستونکيو ته وړاندې کړي. برسېره





پردې يې د پښتو موسيقۍ ماښامي او پروګرامونه د نامتو سندرغاړو په خوږو اوازونو جوړ او مينه والو ته وړاندې کړي، غواړو چې د پوهنې د دېرې د زيار انځورونه ستاسې له نظره تېر کړو.

| ګڼه | د کتاب نوم | نثر/شعر | ليکوال/شاعر |
|---|---|---|---|
| ۱ | ګلپاڼه | شعري ټولګه | مبارز ځاپي |
| ۲ | د قلم توره | شعري ټولګه | ډاکټر کبير ستوری |
| ۳ | ژوندی وزر | شعري ټولګه | ديدار يوسفزی |
| ۴ | ماته آئينه | افسانې | لايق زاده لايق |
| ۵ | مرغزار | شعري ټولګه | محمد حنيف قيس |
| ۶ | لعلونه | د سوات او ملاکنډ د شاعرانو تذکره او منتخب کلامونه | ټولونکي: رحيم سيد خان او اختر ملك ملك |
| ۷ | ډالۍ | د حميد بابا او علي خان بابا منتخب کلامونه | ټولوونکی: لايق زاده لايق |
| ۸ | يادونه | شعري ټولګه | محمد ابراهيم بيدروال |
| ۹ | ژوند او جانان | شعري ټولګه | سعيدالله خادم |
| ۱۰ | راښکلی غشی | شعري ټولګه | ډاکټر ديدار يوسفزی |
| ۱۱ | د هوښيارتيا تله | ساپوهنه | ډاکټر کبير ستوری |
| ۱۲ | ژب سا پوهنه | ساپوهنه | ډاکټر کبير ستوری |
| ۱۳ | زرپاڼه | شعري ټولګه | مبارز ځاپی |
| ۱۴ | زرغون زېری | شعري ټولګه | ډاکټر ديدار يوسفزی |
| ۱۵ | نسکورې لپې | د هائيکو مجموعه | ډاکټر ديدار يوسفزی |
| ۱۶ | پرخه په پرخه | شعري ټولګه | حنيف خليل |
| ۱۷ | مړاوي ګلونه | شعري ټولګه | سليم خټك (مرحوم) |
| ۱۸ | د پښتون/افغان قامي جرګه | مقالې او وېناګانې | جوړونکی: محمد افضل خان (خان لالا) |





| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۹ | خړ ماښام | شعري ټوکله | عبدالله وحيد |
| ۲۰ | چونګ ملغلرې | د مختلفو شاعرانو منتخب شعرونه | ټولوونکی: محمد اقبال ګلرنګزی |
| ۲۱ | مشکنی | شعري ټولګه | لايق زاده لايق |
| ۲۲ | د افغانستان تاريخي حوادث | تاريخ | مرحوم عطاء محمد شېرزی |
| ۲۳ | د هوښياتيا بې پلوه تله | ساپوهنه | ډاکټر کبير ستوری |
| ۲۴ | څانګه | ناول | محمداجان يار |
| ۲۵ | پونه | شعري ټولګه | اقبال حېران |
| ۲۶ | پړونی | د راډيو څخه خپرې شوې ډرامې | اقبال حېران |
| ۲۷ | تاله ميدان | شعري ټولګه | ډاکټر ديدار يوسفزی |
| ۲۸ | ازغو کې پسرلی | شعري ولګه | طماش اپريدی |
| ۲۹ | دين، ژبه او ملت | مقالې او شعرونه | مبارز ځاپی |
| ۳۰ | سندريز پيغام | شعري ټولګه | ډاکټر کبير ستوری |
| ۳۱ | د پښتو تذکره الاوليا د تاليف اته سواله کاله | د مقالو مجموعه | مرتب: سرمحقق زلمی هېوادمل |
| ۳۲ | لبچې او بنګړي | | محمد سراج عارف |
| ۳۳ | لمبې | شعري ټولګه | جميل |
| ۳۴ | ماته ائينه | افسانې (دوهم چاپ) | لايق زاده لايق |
| ۳۵ | د ليلې دښته، د سترګو ليدلی حال | ناول | محمداجان يار |
| ۳۶ | شبنم په ګلو | شعري ټولګه | ابراهيم خان شبنم |
| ۳۷ | د ډيورنډ لاين | د سيمينار د مقالو مجموعه | جوړونکی: خان لالا محمد افضل خان |
| ۳۸ | لېونتوب | شعري ټولګه | لايق زاده لايق |





د پښتونخوا د پوهنې دېرې د پښتو د موسيقۍ بابا استاذ خيال محمد، استاذ رحيم غمزده، استاذ ګلزار عالم، استاذ ماسټر علي حېدر، پېغلې نازيه اقبال، استاد نواب، پېغلې شبنم، انور خيال، سيداګل مينا، زلمی غمزده، رضوان منور، شاه ځوان منور، رحيم ګل بنګش، زاهدالله اپريدی، نور رحمن، غازي اصف، حشمت مرچکی، ګل جان صادق، استاذ صنم او نورو خوږ ژبو سندرغاړو په خوږو اوازونو په زړه پورې ښکلې د موسيقۍ پروګرامونه جوړ کړي او مينه والو ته يې وړاندې کړي دي.

د پوهنې دېره هڅه کوي، چې د ټولو پښتنو ليکوالانو نثري، شعري، تحقيقي او پوهنيز (علمي) ليکنې د نورو ژباتونو سره خپلو مينه والو ته د لوستو جوګه کړي.

د پښونخوا د پوهنې د دېرې دا ادبي کلتوري او هنري هلې ځلې به په راتلونکي وخت کې هم دوام لري او په دې هيله چې پښتانه ليکوال او پوهان به د خپل ژبې پښتو دپاره خپل استعدادونه او سلاحيتونه په کار راولي، ترڅو دغه تنګياله ژبه د سياليو سره سياله شي.

*مبارز څاپې*

## دوړې مه راولئ کلي ته

رنګ په رنګه رنګ د ښکلا په ښکلولو شو
کله چې د رنګ خاوند د رنګ په پنځولو شو
مینې د ښکلا پر لمن ښکلې ګلان وکرل
هاغه انځورګر چې د انځور په انځورلو شو
خوږ د هر بدن ګڼه د مینې د سیالۍ کیسه
داسې هم هرکله د هر تن په ځورولو شو
سترګې خدای راکړي چې پرانسي هرڅه وګورو
خوار ملا دې خوار شي چې په سترګو پټولو شو
خیال او ګمان دواړه د احساس په لیاره یون لري
مینې نه ځاربړه چې د سر په ځارولو شو
څوك چې نه حیا لري، نه ښه کاندي، نه مینه کا
هر کله هر څوك د داسې کس په سپکولو شو
ډېر ښاغلي راغلل غوټې واچـ ـلې لاړلل
ښه راغلاست! هغه ته چې په غوټو پرانېستلو شو
هرڅه د رڼا په لور وزرې د پرواز غواړي
یو د غم ګونګټ دی چې تیارو ته په ورتللو شو





ما د نېکمرغۍ په هیله ځان سترې کاوه مګر
زړه مې په وړیا کې د یو ښه ژوند په غوښتلو شو
راغی د هر غم دپاسه غم خو د سیالۍ په دود
کله چې د ژوند مهال د غم په ځنګولو شو
نه تر سترګو کېږي پای د غم لاترمرګې پورې
هر کله هر ګام د ژوند د غم په اوږدولو شو
مه وایه رښتیا چې د طالب ملا په نوم باندې
هر پښتون سپېڅلی و زندان ته په بېولو شو
اوښکه د خوښۍ ده چې له سترګو مې هېڅ نه ځاځي
نور د غم هرڅه دي چې پرمخ په ورولو شومه
دوړې د جنون د سارا مه راوړئ نور کلي ته
عقل چې په مینه د مجنون په پوهولو شو
ډېر درزیان لګیا دي په درزونو اچولو کې
ښه درځې هغه چې د درزونو په ګنډلو شو
کله چې شیطان زوی د شیطان پر کلي ورغی
هر یو د ادم بچی له کوره په وتلو شو
چا چې د انصاف او عدالت چیغې وهلې وې
هاغه خو په خپله د انصاف په نه منلو شو
چا چې په کابل کې د اسلام د خلافت ویل
هاغه خو په خپله د کابل په ړنګولو شو
یو د ښکلیو مینه ده، بل غم د هېواد ځکه نو
هر چېرته "څاپې" په دې ګناهو د نیولو شو.





# نوې زړې

*عزیز سرشار*

**د پښتو د ملي شاعر استاد ملنګ جان په یاد غونډه**



د تېر ۲۰۰۴ع کال د جولای د میاشتې په ۲۴مه نېټه د جرمنې د کولن په ښار کې یو په زړه پورې مابنامی جوړ شو. ددې مابنامي ناظم ښاغلی مجید افسوس له خوا په مابنامي کې ګډون کوونکیو ته ښه راغلاست وویل شو. وریسې یې د PSDP مشر ښاغلي داکتر کبیر ستوري ته بلنه ورکړه، چې





مابنامی پرانیزي. ښاغلي ستوري د ملي شاعر استاذ ملنګ جان په شخصیت او شاعرۍ لنډه رڼا واچوله او مابنامی یې پرانست. د ستېج چارې ښاغلي انجنیر فریدالله ساپي سمبالولې.

ددې پروګرام د راجوړوونکو ښاغلي عبدالحمید افسوس، ښاغلي اسحق سلطان، ښاغلي عزیز افسوس او ښاغلي زاهد اپریدي له خوا شعرونه واورول شول.

ددې غونډې لپاره له سویډن څخه راغلیو د پښتو خوږ ژبیو سندرغاړو ښاغلي کبیر امیري او ښاغلي همایون له خوا د ملي شاعر ملنګ جان له شعرونو څخه د ګلونو امېل جوړ او د پښتو په ښکلې موسیقۍ کې مینه والو ته وړاندې شو، چې د حاضرینو د خوښۍ سبب شو.

د غونډې په پای کې ښاغلي زرین انځور خپله وینا واوروله او ښاغلي حاجي فضل الرحمن شېر خبرې وکړې او مېلمنو ته یې مخه ښه وویله.

> د ښاغلي اسدالله شیر څخه د زړه له کومي مننه، چې ددې غونډې د چاپ د لګښت دپاره یې په زړه پورې ۲۰۰ ایرو مرسته کړې ده. کور دې ودان وي
>
> اداره

# د لیکونه له منځ نه

د لوی خدای ج په نامه

درانه مشر ښاغلي ډاکټر کبير ستوري او د پښتونخوا مجلې کارکوونکيو ته!

ښې هیلې، سلامونه او دعاګانې!

دا چې د پښتونخوا د خپرونې په رالېږلو مو ونازولو، ډېره ډېره مننه. منلی ډاکټر صیب! زمونږ ناکامې هلې ځلې هم د پخوا په شان روانې دي. دا چې څه به کېږي او یا به څه ترې جوړېږي یواځې رحمان خدای ج پوهېږي. د ناوړو شرایطو باوجود مونږ تر خپلې وسې خپل تاریخي رسالت او مسئولیت ته متوجه یو.

(د پښتني فرهنګ د ودې او پراختیا ټولنه) د ملي هدف د سرته رسولو په دې ډېره کره وړه اوږده لاره کې للهانده، ستړې او ستومانه روانه ده. پښتانه دې ژوندي وي، دوی له خپل رب ج سره تعهد کړی دی، چې په ګډه





ملي کاروان کې به چې د ټولو ګډ ملي هدف دی هېڅکله یوځای نشي. هر یو هسکه غاړه یواځې روان دی. همدا یې اصلي وجه ده، چې رټل کېږو.

ماته د وردګو ټوکه راپه زړه شي، چې ویلي وو: کورت خو هماغه کورت دي، خو مزه یې باران وړې ده. زمونږ د ګوربت د فرهنګي ټولنې د خپرونې (ګوربت) پنځه کاله پوره شول. مونږ په ډېرو خواریو د خپل لاس په تناکو او د اولاد په نفقه، د پښتون قوم د غږ جګولو لپاره ډېر ښکلی ممبر جوړ کړ او ډېر ښه مو پرانېست، چې پښتانه به د حق او خپلو حقوقو غږ ترې جګ کړي.

مونږ د وجدان پر حکم خپل تاریخي رسالت ادا کړ، خو پښتون نه یواځې دا چې د بل ورور پښتون ملاتړ نه کوي، کتاب لوستلو ته هم ډډه نه لګوي. د بېلګې په توګه:

د پښتني فرنګ د ودې او پراختیا ټولنې په پنځو کالو کې ۲۵ کتابونه چاپ او وړیا یې ووېشل، ځکه پښتو کتاب خرڅلاو نلري. که د ګوربت مجله مې نه وای راایستلی اوس به د کتابونو شمېر سلګونو ته رسېدلی وای، ځکه د ګوربت هره ګڼه د پنځو کتابونو د چاپ لګښت غواړي. تر نن پورې داسې پښتون ورور غږ نه دی کړی، چې دا لس روپۍ زما له خوا.





**په ۲۰۰۴ کال کې ګوربت، ملي هنداره او ګودر درې واړه په ټوله نړۍ کې اته (۸) پښتنانه ګډونکوونکي لري، نو ژوندي دې وي پښتانه.**

**د پښتني فرهنګ د ودې او پراختیا ټولنې په ملاتړ دوې نورې خپرونې، چې یوه یې "ملي هنداره" او بله د پښتني خوېندو د کلتوري ټولنې خپرونه "ګودر" هم خپرېږي. یعنې ملي هېنداره هره میاشت، "ګوربت" هرو دوو میاشتو او "ګودر" په هرو درېیو میاشتو کې له چاپه راوزي.**

**د پښتني فرهنګ د ودې، ګوربت، ګودر او ملي هنداري وروستی نوې خپروني ستاسو مخې ته ږدم. هیله ده په خپلو لارښوونو او نیوکو مو ونازوئ، چې خپلې ناسمې پرې سمې کړو.**

په ډېر درنښت محمد آصف وردګ

*همېش خلیل*

**خپله خاوره به په خپلو وینو پالم**
**که حاجت یې قرباني زما د تن شي**
**که غلیم له ما برې یووړو محبوبې**
**ستا پرونی دې زما د تن کفن شي.**

مور ښاغلي همېش خلیل ته د ۷۵ کلیزې په مناسبت مبارکي وایو او ډېر عمر ورته د لوی خدایه غواړو.





❋❋❋

راته ډېر ګران او محترم مشر کبير ستوری صیب او نور ملګرو

د مینې ډک سلامونه قبول کړئ.

هیله لرو چې تاسو ټول به روغ او جوړ یئ.

ماته ستاسو له خوا د پښتون سوشل ډیموکریټیک ګوند ارګان "پښتونخوا" ملاو شو. ډېر خوشحاله شوم چې تاسو زه یاد کړم. ډېره زیاته مننه! تشکر مهرباني. ستاسو د سرګرمیانو او فعالیت نه خو په څه ناڅه شکل خبرېږو او ډېر زیات خوشحاله کېږو.

مونږ د افغان پښتون وطن سره تعلق لرونکي په ډېر لوی تعداد کښې د سنده په خاوره خصوصاً په کراچۍ کښې آباد یو. زمونږ اکثریت د کارګر او مزدور طبقه سره دې. زمونږ خلق دلته د مختلفو مسائلو او مشکلاتو سره مخامخ ژوند تېروي، خو یوه لمحه هم د خپل وطن او وطن د خلقو نه غافله نه دي، خو هغه د پشاور او کوئټه د قام پرست مشرانو نه ډېر ستړي او بېزاره دي، ځکه چې دغه خلق د خپل ضرورت دپاره د کراچۍ محنت کش پښتانه د خپل سیاسي ګټو دپاره چه کله ضرورت ګڼي استعمالوی او بیا غائب شي. په اقتدار کښې د پېښور او کوئټه نه باهر نه راوزي چې کله ئې اسلام آباد مسترد کړي او د اقتدار نه ئې محرومه کړي، نو بیا د کراچۍ مخه کوي. د کراچۍ د اولس د احساساتو او جذباتو خیال نه کوي. کراچۍ ډېر حساس ښار دی او د مختلف ژبو او ملتونو خلق پکښې پراته دي چې د دوی په مابین کښې سیاسي معاشي تضادات کېږي. زمونږ اولس په یو

معمولي واقعه هم ډېر مايوسي او محرومي محسوس کوي او ځان فوراً لاوارثه ګڼي. دلته د يوې باشعورې طبقې خو دا يقين دی چې د پښتون اولس ارمانونه پوره کول صرف د "بر" افغانانو کاروي او د "لر" مشرانو او سياسي ګوندونو نه بالکل نااميده دي. د اولس خواهش دی چې په "بر" وطن کې دې په هر حال قرار او سکون راشي نو بيا د نورو پښتنو معاملې به هغوی حل کوي.

نور زما ذاتي خيال دی چې پښتانه په يوځائې کښې هم داسې په نوم قام پرست او لبرل سياست منلو ته تيار نه دي چې پکښې د وطن حقيقي مينه او ضد استعمار جذبه نه وي. بدقسمتی نه په پاکستان کښې قام پرست سياست تش د خپلې فيوډالي مفاداتو او ګټو دپاره شوی دی، ځکه د هغه سياست خلقو مسترد کړی دی.

بل زه ستاسو توجه د پېښور او ټولې صوبې د معاشرتي ساخت طرف ته ګرزوم چې دلته د پښتون نوم او نعره د يو خاص خلقو دپاره وهلی شوې ده او د اولس لويه برخه په مختلفو نومونو او شکلونو د پښتون د لفظ او کليمې نه باهر کړی شوې دی او دا لفظ دومره تنګ کړی شوی دی، چې د وطن ټول خلق او اولس په دې کښې نشي ځايېدلی. دا معامله ډېره زياته شوې ده او هم دا مسئله او معامله زمونږ د قام پرست مشرانو د غير سنجيدګی د وجه پيدا شوې او ورځ په ورځ زياتېږي. تاسو په دې هم غورر وکړئ او د معاملې په ژوره د جاج اخيستلو دپاره په دې مسئله او معامله ځان پوه کړئ. د افغانستان معاشره قبائيلي ده او هلته دا مسئله نشته يا





د نشت برابره ده خو د پېښور او ټولې صوبې معاشره فيوډالي (جاګيردارانه) ده او طرز يې مکمل د هند د نورو جاګيرداری معاشرو سره يو کړی شوی دی. همدغه وجه ده چې د صوبې ګڼ شمېر خلق د قام پرستو په ځای د ملك ګير سياسي جماعتونو يا مذهبي جماعتونو سره په ضد قام پرست جماعتونو اړيکې لري. ددې معاملې او مسئلې هم څه سد باب پکار دی کنه دا مسئله به هم خراب اثرات جوړوي او زمونږ دښمنان به يې په خپله ګټه استعمالوي.

نور ستاسو د ګوند او ملګرو د فعاليت او اتفاق دپاره دعاګو يو او دعاګو يو چې ستاسو کار دې د ټولو پښتنو او خواريکښ انسانانو دپاره ښه سباوون راوړي. دعاګو يو چې پښتون اولس دې په يو مرکز راغونډ او د نړۍ د نورو ملتونو سره سيال شي.

دا چې د آمو چپې غورځنګ کوي خو زور لري
پخپله خاموشی کښې اباسين دننه شور لري
نشته لر او بر په افغانانو کې
داسې چې ځوك کړي مخونه تور لري.

په درناوی
ستاسو کشر ملګری
فضل منان باچا (ايډوکيټ)
معرفت غفور شاپ، فرنټير کالونی،
۳ ميټروول روډ سائټ، کراچی





# د ښادۍ او وير د محافلو په اړه د پاملرنې وړ غټ ټکي

## د وير او غم په اړه:

۱- د هغو هېوادوالو جنازه، چې په هېواد کې دننه او يا ګاونډيو هېوادونو کې خاورو ته سپارل کېږي، دلته دې بيا خيرات نه ورېسي کېږي. که څوک غوښتل بيا خيرات وکړي د خيرات پيسې دې هېواد ته واستوي.

۲- د کورنۍ له ډېرو نږدې غړو (لکه مور، پلار او ورونه...) پرته، چې نور کوم خپلوان په هېواد يا ګاونډ کې په حق رسېږي، د هغوی فاتحه دې دلته نه اخيستل کېږي، که چېرته څوك نژدې خپلوان ورځي په کور کې دې فاتحه وکړي.

۳- هغه هېوادوال، چې دلته (لويديځ) کې په حق رسېږي او همدلته خاورو ته سپارل کېږي، که ممکنه وه جنازه او فاتحه دې په يوه ورځ واخيستل شي.

۴- فاتحه دې د ماسپښين او مازيګر د لمونځونو تر منځ واخيستل شي او له دوه ساعتو څخه دې نه اوږدې.

۵- د فاتحې پر وخت دې ټول نارينه او ښځې په کلکه اسلامي آداب مراعت کړي.

۶- د وير ښتن بايد د فاتحې په ورځ د اسلامي شريعت له مخې راغلو دوستانو ته د ډوډۍ له پخولو





څخه ډډه وکړي او راغلي دوستان بايد له فاتحې وروسته د ډوډۍ لپاره د مړي په کور کې پاتې نه شي.

۷- هغه دوستان، چې ستونزې لري او يا د فاتحې له ځايه څخه ډېر لرې اوسېږي، کولی شي په ټيليفوني توګه د غمرازۍ او ډاډګېرنې مراتب وړاندې کړي، د فاتحې ښتن ته نه ښايي، چې خوا ترې بده کړي.

## د ښادۍ په اړه:

۱- د ښادۍ په ټولو دودونو کې دې هڅه وشي، چې اصيل پښتني افغاني کلتوري ارزښتونه په پام کې ونيول شي.

۲- د ښادۍ په دودونو کې بايد له افراطي او بېځايه لګښتونو څخه کلکه ډډه وشي.

۳- خوږه يا کوژده بايد د نژدې خپلوانو له کړۍ څخه پراخه نه شي، يعنې له کوژدې څخه بايد واده جوړ نه شي.

۴- په واده کې له نږدې خپلوانو پرته، حتمي نه ده، چې لرې خپلوان او يا هغه دوستان، چې په لېرې ښارونو کې اوسېږي له ټولې کورنۍ سره خبر شي.

الحاج فضل الرحمان (شېر)، الحاج سراج الدين منګل، ډاکټر کبير ستوری، سر محقق زلمی هېواد مل، ښاغلی زرين انځور، (د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه)، پوهاند محمد قاسم جمدر (په مونشن ګلادباخ کې افغاني کلتوري ټولنه)، ښاغلی محمد شېرين ګرديوال (د پښتنو کلتوري ټولنه)، ښاغلی هدايت الله بنګش (پښتون کور)، ښاغلی انجنير حبيب رسول، ښاغلی علي محمد مجبور او ښاغلی خوشال روهي.

## افغان سينما تياتر مرکز

افغان سينما ـ تياتر مرکز په پام کې لري د ځوانانو، تنکيو ځوانانو او ماشومانو لپاره د ادبياتو، تمثيلي هنر، موسيقۍ، ملي اتڼ او همداراز د مورنۍ ژبې او ديني زده کړو په برخو کې ښوونيز کورسونه پرانيزي.
دغه کورسونه د پياوړو او درنو استادانو لکه استاد زرين انځور، ښاغلي محمداجان يار، ښاغلي عبدالواحد نظري، ښاغلي معاون ګران، ښاغلي صلاح الدين قاضي خېل او ښاغلي محب الله رووفي تر نظر لاندې جوړېږي.

## غزل

دې ښاپسته افغان اولس ته مې سلام دی
ټوری نوم يې ټول جهان ته نمايان دی
نن خرڅ شوي په پوندونو ډالرونو
چې پخوا ته څوك نظر نه کړي نادان دی
احمد شاه غوندې پلرونه مو تېر شوي
ښاپسته ښکلی نوم يې پروت تر هندوستان دی
د تاريخ ثاني مې نشته په جهان کې
ما دشمن لره ورکړی امتحان دی
يتيمان پلرونه غواړي صبر نه کړي
او تا وطن ځني شړلي دا وجدان دی.

ممتاز ساپی
خاص کنړ، طلايي باند





## د رحمان بابا ادبي سيمينار ته د ډاکټر کبير ستوري وينا

د لوی او بخښونکي خدای په نامه

درنو مشرانو او ليکوالانو، شاعرانو او اديبانو!

زه ترهرڅه لومړی له تاسې نه خوښنه کوم چې ماته مو ددې درنې غونډې د مشرۍ وياړ راوبښنه. په انساني ژوند کې ډېر پړاونه منځ ته راځي، چې په مختلفو پړاونو کې مختلفې هيلې او ارزوګانې او خواهشات پيدا کېږي، خو يوازې هغه خواهشات او هيلې چې د ټولنې د دود دستور سره سمې وي او د ټولنې يا سماج له خوا ورته اجازه ورکول کېږي، سرته رسېږي. هغه چې اجازه ورته ورنه کړای شي هغه لاشعور ته ځي او په لاشعور کې ځای نيسي. خو ځينې داسې ارزوګانې او خواهشات دي چې د هغې سره انسان ډېره مينه لري، نو هغه بيا تخيل ته ځي او تخيل کې پرتې وي چې دا په حقيقت کې د شعر محرکه قوه ده، چې شاعر يې د خپلو راپارېدلو احساساتو په وخت کې چې مينه ورسره بدرګه وي د تخيل نه رااخلي او په داسې جامه کې او يا پر يوه منظمه جامه کې رانغاړي چې وزن، قافيه او تال ولري ټولنې ته په داسې ډول وړاندې کوي، چې د يوې خوا په سزا ورنه رسېږي او د بلې خوا هغه خپل خواهشات پوره کړي. تخيل د غير حقيقي نړۍ پورې اړه لري. هلته څوك په سزا نه رسېږي. هغه يوه باغي دنيه ده خو بېرته چې دا هيلې او خواهشات د مينې او احساساتو په برکت سره حقيقي نړۍ ته راځي. نو دلته ورته داسې وزن او تال ورکول کېږي، چې شاعر يې په سزا نه رسېږي.

زموږ په ټولنه کې دوه مرکزونه دي چې يوه حجره ده او بل يې جومات دی. د رحمان بابا شعر هم د حجرې سره تړون لري او هم د جومات سره.





زه به تاسې، ته د رحمان بابا يو شعر وړاندې کړم چې د حجرې سره تړون لري.

که مې چېرې لاس دا ستا په بوسه بر شو
دا نعمت به د جنت په خوان ورنکړم

اخرې بيت يې داسې دی:

په رحمان دا ستا د لبو مې حرام شه
څو د خپلو وينو جام تاوان ورنکړم

د رحمان بابا دا شعر که څه هم څو سوه کاله مخکې ويل شوی دی، اوس هم د هر نوي شعر سره نه يوازې سيالي کولی شي بلکې ترې غوره هم دی.

## د نارنج ګل

*ډاکټر کبير ستوری*

خوښ مې پسرلی دی د کال ټولو موسمونو کې ښکلی د نارنج ګل پاچاهي کړي په ګلونو کې وشيندي خوشبوی د نارنج ګل په چم ګاونډ کې خپل ژوند شي راژوندی مينه شي ځوانه مين زړونو کې بوی د نارنج ګل ټول شاعران په مستۍ راولي جوړه کړي ميله د نارنج ګل ستايي شعرونو کې خيال د هر عاشق د خپل جانان غېږه کې لوبې کړي ښکلي لا ښايسته ښکاري په ښکلو لباسونو کې کم شي د انسان او چاپېريال د حرارت تو پير شي سپما تودوخې وينه ګرمه شي رګونو کې ستوري د رنګونو فلسفې کې دا لوستلي دي رنګ خو تل اثر پرېږدي په زړه او دماغونو کې






**که سپوره وي، که پوره په شريکه به وي. (باچا خان)**

**Das Brot, ob belegt oder trocken, wird unter allen gemeinsam aufgeteilt (Batscha Chan)**

**Butterd or unbuttered bread will be common (Bacha Khan)**

# V.S.I.P / Responsible for contents

DR. KABIR STORI
Kiebitzweg 12
50389 Wesseling - Germany
Tel.: 0049 2236 83463



## Editorial Board /Redaktion د خپرونې جرګه:

| | |
|---|---|
| Ali Khan Mahsood | علي خان محسود (مسېد) |
| Hedayat Bangash | هدايت الله خان بنګش |
| Mabariz Zapi | خان محمد مبارز ځاپی |
| Aziz Sarshar | عزیز سرشار |
| Nasir Stori | نصیر ستوری اېسپزی |
| Gul Ghutai Kunarai | ګل غوټۍ کونړۍ |



www.pashtoonkhwa.com
pashtoonkhwa@gmail.com
psdp@gmx.net